# سوسیالیزم او عدالت

لیکوال: ډاکتر روشنگری عبدالمتین

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

۱۳۹۹ ه. ل کال

لومړی برخه:

1. په افغانستان کی دخلق دیمکراتیک ګوند دکودتا له لاری وقدرت ته ورسیدی نه دانقلاب ، په دی کارکی دوی دخپلواصولواومفکوری له مخی ملامت وه ، افغانستان باید دسرمایه داری مرحله تیره کړی وای بیا سوسیالست ګوند دکارګرانوپه مټ انقلاب کړی وای ، یوڅوک چی وخپلواصولوته ژمن نه وي نودهغوی کومه خبره دباوروړده ؟

2. بیا چی یی کودتا یی وکړه قدرت یی ترلاسه کړ نولازمه داوه چی په خپلوهغووعدو کی په معقوله طریقه وفاکړی وای کومی چی یی ترانقلاب دمخه وخلګوته ورکولي .

3. ۱ – ویل به یی موږدرشوت پرضد راپورته سوی یو ، خپله به یی رشوت نه خوړلی دایی په یوی وعدی وفا کړي . ۲ - بل یی داویل موږمساوات راولو : په افغانستان کی ډیری آبادی ناتوزیع سوی ځمکی وي اوهم ډیری وچی ځمکی وي هغه به یی خړوبه کړی اووخلګوته به یی تقسیم کړی وای ، یوڅومحدود لوی زمینداران چی وه پرهغوبه یی مترق مالیه حواله کړی وای بزګران به نه وای هغوی خپلی اضافه ځمکی خپله پریښودلی ، دا یی ددوی په فکر فیوډالیزم ختم اومساوات راوستلی . اوکه یوڅومحدود زمینداران اوسرمایه لرونکی خلګ هم وای ونظام ته یی هیڅ ضرر نه شورسولای ، ژربه ټول خلګ په شته منی کی ددوی وسویی ته رسیدلای وای .

4. په افغانستان کی پریمانه معد نونه وه هغه به یی استخراجولای اوصنعتی فابریکی به یی جوړولی ، دومره کاربه وای چی له نوروحیوداوڅخه به خلګ دکارلپاره وافغانستان ته راتللی لکه عربی ممالک چی په ډیرکم وخت کی دغربت اوکوچی توب له ژوند څخه دنړی ترټولوپه لوړه سویه ژوند ته ورسیدل افغانان به هم همداسی سوی وای .

۳ - وهرچاته یی لکس کور، کالی ، ښه ډوډی اوموټراونورشیان ورکولای سوه ، په افغانستان کی یوڅومحدود سرمایه داران وه ، تجارت به یی ملی کړی وای هغوی خپله فلج کیدل ، دا دهغه فطری اونسانی مساوات تاءمین چی خلګویی خوبونه لیدل .

5. د ټول ملت څخه به یی یوګوند جوړکړی وای ، دغه ګوندی اوغیرګوندی امتیازات اونابرابری به هم له مینځه تللی وای ، دومره دژوند وسایل به یی په کمه موده کی برابرکړی وای چی دخلګوتراحتیاج به زیات وای ځکه دافغانستان نفوس کم ځمکی اومعدنونه یی ډیرزیات وه . دنړی سوسیالستی اوسرمایه داری هیوادونو به ټولوددوی دسیاست اوقانون تقلید کولای .

6. خواصلی هدف درشوت منع ، مساوات اووخلګوته کور کالی اوډوډی ورکول نه وه ، بلکی هدف داوو چی آزاد اودعزت خلګ په یوه اوبل نامه داسی وټکوي چی دآزادی روحیه یی له دماغه وباسی ، چی دهمیش لپاره داولس دغلامی ژوند ومنی دتل لپاره څوکسان دکمونست ګوند په نامه بادران اوعام ملت غلامان واوسي اوپه نیمه خیټه مړتیا قناعت وکړی لکه په نوره سوسیالستی نړی کی ، مقصد دا وو چی دبشروفطرت ته تغییرورکړي هغه بشرچی آزادی دبیا ن

، آزادی دعقیدی ، آزادی کار اوآزادی دملکیت یی فطری غوښتنه ده  چی هیڅ وخت دآزادی انګیزه دانسان له فطرت څخه نه جلا کیدونکی ده . نوربیا

دوهمه برخه :

1. چیری می ولیدل چا لیکلی وه چی  دنورمحمد ترکی ډیربنه مترقی فرمانونه وه ، دشلمی پیړی په آخرکی په فرمانوباندی دملک اداره کول مناسب کارنه دی ، معقوله لارداوه چی دملک داداری اونظام دچلولولپاره یی دولس له مینځه څخه دپوهواوباتجربه کسانو یوه منتخبه شوری جوړه کړی وای ، په ملک کی ډیرپوه باتجربه اووطندوسته کسان موجود وه .

2. دوی عجیب رقم فکردرلود ، ځانونه یی پوه اومترقی او نوریی ټوله ناپوه اومرتجع بلل ، هغه څه چی مارکس لینن اواستالین کړی یا ویلی وه هغه دډیری نقش وو  بی له دی چی غوروربandی وکړی په پټوسترګویی منل  تابه ویل چی دخدای اورسول خبره ده ، یوازی دوی دتاریخ دتکامل په کجاوه کی سپاره اودپرمختګ پرلورروان وه هیڅ غلطی نه ځینی کیده ، نوځکه یی هرڅه دفرمانو له لاره سرته رسول نه دولس دمشوری په ذریعه ، دولس پوه اومتنفذ خلګ یی سخت ترفشارلاندی نیولی اوتوهین کوله یی ، هره ورځ به یی په مارشوکی مرګ پروایه اوفهمول به یی چی باید ټولنه له دوی څخه پاکه کړه شي .

3. یوفرمان یی داووچی دښځومهرباید دری سوه افغانی سی ، داکارونه یی ددی لپاره کول چی څرنګه ولس ژرځان ته راجذب کړي . داځومره غټ ظلم وو دښځوپه حق کی . مهردښځویونوع اقتصادی تقویه اواستقلال تاءمینووي ، ښځه ترنارینه ډیره ضعیفه ده ، آسیب پذیره ده ، هره میاشت ورته ناروغی پیدا کیږی ، دحمل  ولادت  شیدوورکولو اوکوچنیانودتربیت ډیردرانده مسؤلیتونه په غاړه لري  مورباید د خپل اولاد روزنه اولاربښونه دهغوی ترځوانی پوري وکړي نوښځه باید په فوق العاده توګه تقویه شی . دایوغلط رواج دی چی دښځی مهریی پلاراخلی ، ددی لپاره به دوی د ښځومهرونه په یوه خاص بانک کی جمع اوپه یوه مشروع طریقه به یی په ګټه ورته اچولی  دابه دهغوی له کورنی سره یولوی کومک وای .

4. په دی ډول به دکورنی تاوتریخوالی هم له مینځه تللی ، ځکه اکثره وختونه د پیسوپرسردنارینه اوښځی ترمابین جنجال واقع کیږی ،ښځوبه دنوی نسل دتربیت کارپه سمه توګه سرته رسولای سوای ، داسی به نه وای لکه نن چي په متمدنه نړی کي ښځی اونارینه په عین شکل شاقه کارونه کوي  اودادی سبب ګرځیدلی دی چی ښځي اولادنه ونه زیږوي .

دریمه برخه :

1. اکثره وختونه سیاسی ګوندونه اواشخاص ددی لپاره چی ځانونه وقدرت ته ورسوي  په لمړی سرکی دولس دخیر ښیګڼي اوغمخواری خبری کوي  ترڅودخلګوحمایه ترلاسه کړي خوکله چی وقدرت ته ورسیږي بیا یی ولس له یاده ووزی او په عوض یی دخپل قدرت داستحکام لپاره کارشروع کړي  دمخالیفینوپه ځپلوشروع وکړي ، الله تعالی وداسی کسانوته بیا لږوخت دامتحان لپاره ورکوي . یوڅوک چی وقدرت ته ورسیږی داسی فکرکوی چی داقدرت به همیشه لپاره راسره وي اونوربه زیاتیږی هم خوالله تعالی یی دناکامی داسی اسباب برابرکړي چی دوی هیڅ پری پوه نه شی .

2. دځمکوداصلاحاتوفرمان دادخلګوغولول وه  ددی لپاره چی ولسونه په دوومتخاصموډلوتقسیم اویوه ډله یی په خپل ګټه وجنګوي . په افغانستان کی دځمکودکموالی مشکل نه وو، دولتی ځمکی دومره وي چی خلګ نه پسی رسیدل له بله طرفه افغانستان دمعدنوډک وو کارخانی فعاله کیدلی اوهرچا ته له ځمکی نه ښه کارونه پیدا کیدل .

3. هدف دولس سوکالی اونیکمرغی نه بلکی داستبدادی اوغیرقانونی نظام استحکام وو هغه هم دشوروی اتحاد ترتسلط لاندی ددوی تکیه پرولس نه بلکی پرشورويي وه .

4. دسوسیا لست ګوندهدف داوو چی دشوروی ترحمایت لاندی دیوه دائمی استبدادی حکومت ولري  ځکه دشوروی دتسلط نه پرته ددوی دنظام بقا نه تضمین کیدله ، دوی دشوروی تسلط پرملک باندی یوانترناسیونالیستی اړیکه بلله  بیله دی څخه دسوسیالست ګوند لګکی دهمیش لپاره دولس اربابان نه سوه جوړیدلای ، دوی به همیشه داویل چی موږپه دی افتخارکووچی دشوروی اتحاد دیوی سپوږمی په حیث واوسو ، اودشوروی اصلی مقصد بیا داوو چی له دی لاری دهند وبحرته ځان ورسوي .

5. دادالله تعالی اراده وه چی دغه سترنړیوال قدرت یی دیوه کوچنی اوکمزوری ولس په واسطه را وپورځاوه . ددوی دادعا په خلاف تاریخ دشا ولورته حرکت وکړاوارتقاء په ارتجاع بدله سوه ، دنړی یوی لویی برخی خلګو دآزاد ی سا واخیستله .

6. مارکسیزم په تاریخ کی یو قوی ایدیولوژیکی مسلک وو چی دجهان خواره سرمایه داری استعمار په وړاندی راپورته شو په نړی کی یی ډیری وینی تویی اوڅه بریالیتوبه یی هم ولرل ، خوددی مسلک رهبرانو دخدایی دعوی کوله  په لس هاوو میلیونه مظلوم انسانان یی بیله محاکمی ووژل  حتی په خپل ګوند کی یی درعب اووهم داچولولپاره خپل ډیرملګری قتل عام کړه ، دګوند هرغړی کولای شول چی هرڅوک هرچیری ووژنی اوهغه کسان چی یی وژل بیا یی دهغومړی هم وخپلوانوته نه ورکول اوپه یوه کنده کی یی اچول ، خودوی اوس په عوض ددی چی توبه وباسی اوله ولس څخه عفووغواړي لاهم له ولس څخه ګیله لري چی ولی یی زموږدادومره زیات

اوبی حده ظلمونه اووحشت تحمل نه کړی ، بلاخره دالهی سنت موافق یی ناکامی په برخه سول اوراتلونکی نسلونه به ددوی د کړوڅخه پند اخلي

.
څلورمه برخه :

1. دافغانستان دکمونست ګوندغړي اوس لاهم دادعوی لري چی موږ خوپه افغانستان کی عدالت اومساوات راووستی ، انسانان مودفیوډالی اوسرمایه داری نظام له ستم څخه خلاصول ، موږدغسی یومترقی نظام په افغانستان کی جوړاوه دغه دکودتا ګانوکول خونوزموږحق وو ، داغرب پاکستان نوراونوروه چی پرموږیی حشروکړ پرموږیی جنګ تحمیل کړ اوپه ټولنه کی یی دپیشرفت اوترقی مخه ونیوله ، اووایی : دا دافغانانوجهاد نه بلکی دآمریکا اوروس جنګ وو اوداسی نوری عجیب اوغریب خبری هم کوي په افغانستان کی هغه وخت دآمریکا یوعسکرهم نه دی وژل سوی .

2. خودوی دی ته فکرنه کوي چی څه حق یی درلود چی دجبراوکودتا له لاری یومطلق استبدادی نظام پرولس تحمیل کړي ؟ دوی باید له ولس څخه پوښتنه کړی وای چی څه رقم نظام غواړي ، لمړی به یی یومنتخب ولسی حکومت جوړکړی وای بیا به یی خلګوته پوهاوی ورکړی وای چی سوسیالستی نظام داسی یوعادلانه نظام دی .

3. دوی به ویل چی دشوروی دخلګوژوند داسی ژوند دی لکه دځمکی پرمخ جنت ، بیا به یی دولس په نمایدګی یوڅومشران افغانان هلته بیولی وای هغه ژوند به یی ورښوولی وای خلګوبه خوښ کړیوای په دی توګه به بدلون په معقوله توګه مینځته راغلی وای ، دوی پرولس دومره فشارراوړی چی اکثریت خلګ له خپله ژوند څخه بیزاره سوه وغروته وختل اویا یی له ملک څخه مهاجرت وکړ ، دچنګیزڅخه وروسته په تاریخ کی پرافغانانودومره فشاراوبده ورځ نه وه راغلی چی په دومره لوی تعداد خلګ دی ملک پریږدی اویا دی ووژل شي .

4. دوی حتما دشوروی دخلګودژوند دډیربدحالت څخه خبروه ، خودوی صرف دخپل شخصی قدرت لپاره ددرواغوتبلیغات کوله ، آیادوی په دی نه پوهیدل چی شوروی اتحاد په حقیقت کي خپل دملک څخه یولوی زندان جوړکړی دی چی نه یی دسیاحت لپاره څوک ددباندی له خوا ور پریښودل اونه یی وخپل خلګوته دا اجازه ورکوله چی د کوم بل ملک لیدنه وکړي ، آیا دوی نه پوهیدل چی شرقی اوغربی جرمنی یی ولی دیوه دیوال په واسطه سره جلاکړیوه ؟ هلته ولی آزادی دبیان نه وه؟

5. په شوروی کی چی څومره بی ګناه خلګ بی له محاکمی وژل کیدل یا وسایبریاته تبعید کیدل اونورډیرشاقه کارونه په کیدل دا ترلمری ښکاره خبره وه ، دبشردحقوقوڅخه سرغړونه یی کوله داخبره هم وهرچاته معلومه وه اودوی هم په افغانستان کی هم هغه دشوروی دانقلاب په شکل کار شروع کړی ، هغه یی شعارونه مارشونه اوکړه وړه وه ، چی ویل به یی زموږخاوره په

کارده نه خلک ، یابه ویل چی تردوولس کلنی ورسته انسانان توله باید ووژل سی ځکه هغوی کمونستی مفکوره نه قبلوي ، داعجیبه انصاف اومنطق دي چی له دوی څخه بی غیربل چاته دمنلووړنه دي . بی له محاکمی دخلګووژنی دنړی په کم قانون کی جوازدرلود غیرله سوسیالیزم څخه .

6. کله چی روسان له افغانستانه وتل دوی هم باید ورسره تللی وای نوبیا یی ولی وغرب ته مهاجرتونه وکړل ؟
سوسیا لیزم او عدالت څلورمه برخه : وضاحتونه اونظریاتی اختلاف دادب په چوکاټ کی طرفین له واقعیتوخبروي اوپه پایله کی دنظراوعمل یوالی راولي . لطفا داشیان مطالعه کوی بیا خپله قضاوت پرکوی

پنځمه برخه :

1. دسوسیا لستانوعجیب مفکوره وه هغوی غوښتل دانسان وفطرت ته په زورباندي تغییروركړي ، راتلونکی نسلونه داسی جوړکړي چی هیڅ نوع آزادي ونه غواړي اوموجوده انسان په یوه نوع مصنوعی انسان باندی بدل کړي ترڅوانسان په تولنه کی داسی کاروکړي لکه دماشین یوه پرزه چی یی په ماشین کی کوي اصلا دوی دانسان په فطرت کی انقلاب راوستل غوښتل خو دشوروی دغه ضد انسانی سیاست خپله دشوروی دپرمختګ مانع واقع سو .

2. دوی غوښتل انسان داسی جوړکړی لکه حیوان چی یوازی په خوراک اوشهوت بسنه وکړي . خوهرسړی په دی پوهیږی چی آزادی دعقیدی اونظردانسان یوه طبیعی غوښتنه ده ، همدارنګه انسان چی کاروکړی اوڅه په لاس راوړي دهغه مالک باید وګرځي اودایی هم غوښتنه ده چی دده مال باید دده واولاد ته په میراث پاته سی بل څوکی یی باید وانه خلي . دانسان فطری غوښتنی دانسان له فطرته نه جلا کیږی که هم څه دفشارپه ذریعه ترڅه وخته خفه غوند واوسی .

3. انسان دتولنی دیوی عضوپه حیث ددی غوښتنه لری چی دتولنی دکارودښیګڼي لپاره خپل نظروړاندي او تولنه دده ونظرته ارزښت ورکړي ، همدارنګه دکارانتخاب داوسیدود محل تاکل دانسان فطری حق دی ، هرسړی په خپله شخصی کورکی تردولتی کورډیرخوشحاله وي که څه هم دولتی کورله شخصی کورڅخه ډیرښه وي .

4. دنکاح درابطی ساتنه دانسانانوفطری غوښتنه اوحق دی چی پرناموس یی باید څوک تیری ونه کړي ، خوکمونستی مفکوره نکاح یوزوړدود بولی نه دانسان یوه فطری غوښتنه چی دکمونیزم په راتلوسره باید نکاح له مینځه واړه شی ، ښځه هم لکه مال اوځمکه ملی سرمایه جوړه سی .

5. چنایان لا اوس هم غواړی په زورانسانان له خپلوعقیدو څخه واړوي . شوروی اتحاد دانسانی فطرت په خلاف تریوی اوږدی مودی مبارزی ورسته ستړی اوناکامه شو بیرته دفطرت لاری ته

په راګرځیدوشو امید دی چی یووخت کاملا دحق دین فطری لاره غوره کړي . همدا اوس یی په قانون اساسی کی دخدای اودین په اړه ډیرحقایق ومنل

شپږمه برخه :

1. دظاهرشاه په وخت کی وولس ته آزادی دبیان ورکړل سوه ، سیاسی ګوندونه جوړسول ، مظاهری به کیدلی حتی پرشاه به مرګ ویل کیدی ، دسوسیالست ګوند غړی وپارلمان ته ولاړه ، ډیرپه شوراوړوړ به یی پردولت نیوکی کولي ، یوپه بل پسی منتخب نظامونه راتلل ، دملت د ډیروپوهو اونخبه کسانوڅخه به کابینه جوړیدل حتی دګوندو دفشارله سببه به یوحکومت ړنګ بل منتخب حکومت به جوړسو .

2. سیاسی شعورپه ولس کي په ډیره ښه توګه وده کوله همدا دپرمختګ یوطبیعی سیروو چی بالاخره هرګوندپه پارلمان کی اکثریت پیدا کیړی وای هغوی به بی تکلیفه قوانین جوړولای خوله بده مرغه کمونستانودداؤد خان په مشری کودتا وکړه آیا ودی ته څه ضرورت وو ؟ همدادملک دبدبختی پیل اوجنایت وو دخلق اوپرچم ګوند مشران دداؤد خان پرشا وخوا راټول سول ټوله کابینه له دوی داستالین له سوټیانو څخه جوړه شوه چی غیرله وحشت اوتشدد څخه په بل هیڅ شی نه پوهیدل ، په دی وخت کی دوی خپل سیاسی حریفان داسلامی تحریک غړی سخت وټکول .

3. همدغه چپی ګوندو بیا پرداؤد خان فشارراوړی چی ژرترژره دي سوسیالستی استبدادی نظام قایم کړی دداؤد خان نظرداووچی لا تراوسه دسوسیالستی نظام دجوړولولپاره شرایط نه دی برابر باید کاروکړوچی شرایط برابرشی یوځلی یی دسوسیالستی نظام دراوستلواعلان هم په وکړی خوبالاخره یی ترمابین اختلاف پیدا سو پرداؤد خان یی کودتا وکړه هغه یی له خپل فامیل اوکابینی سره ټوله په ارګ کی ووژل ، هغه ارګ چی په لمړیووختوکی به هلته دوی ته دکمونستی فکرروزنه ورکول کیدل . دګوند هرغړی به یی ملکی ، نظامی ، قضایی او بله هره دندی په خپل فکراوخوښه سرته رسول ، اوخپله به قانون هم وو ، داسی بد اوډارونکي بریتونه به یی وه چی چابه ورته کتلی نشول ، هریویی دعزرائیل نماینده وو.

4. داؤد خان دملک دآبادی لپاره ښه پروګرامونه درلودل اوخپل دخلق اوپرچم له ملګروڅخه یی غوښتنه هم داوه چی راسی په د ی برخه کی ګډکارسره وکړو خوله بده مرغه دوی دملک دآبادی په فکرکی نه وه بلکه غوښتل یی چی ژرځانونه وقدرت ته ورسوی اوملک دانقلاب په اورکی وسوځوي چی په پای کی یی همداسی وکړه .

5. ددوی نظام چی نوی نظام وو اوویل به یی چی موږوټولوخلګوته کورکالی اوډوډی ورکوو مساوات آزادی اوعدالت را ولو په لمړی سرکي خلګ ترډیری اندازی ورته خوشبینه وه ، خوکله چی دبی ګناه خلګوقتلونه بی له پوښتنی او محکامی شروع سول خلګ له حقیقت څخه پوه اووفرارته یی پرقرارترجیح ورکړه ، څوک چی دملک څخه وتلای سول هغوی هرڅه پریښودل

اوهجرت یی وکړی  خودملک دمرکزی برخو خلک چی هجرت یی نه شوکولای په تشولاسووغروته وختل په کورکی دبی عزتی ترمرګ یی دسنګرشهادت غوره وباله . بیا نودلنین اواستالین په شان پرګرامونه قدم په قدم شروع سول ترڅوانقلاب وکامیابی ته ورسوي ، ملت خولاڅه کوي خپل په مینځوکی یی هم یوپربل سختی حملی شروع کړي ، یوه ورځ به دانقلاب رهبران وه بله ورځ به هغوی تورمخی خائنان اودانقلاب ضد عناصروه ، مقصد دلیوانوانقلاب وودهریوه به چی به شاسول یا به لړکمزوری ووبل به سمدستی حمله پرکوله

اومه برخه :

1. اوس لا هم کمونست ځوانان دا ګیله لری  چی ولی ولس زموږظلمونه اوشکنجی تحمل نه کړي  په فراراومخالفت یی شروع وکړ اوس موږدخلق ددیموکراتیک ګوند له غړوڅخه داپوښتنه کوو که چیری بل چا ستاسی سره داسی خاصمانه چلند کړی وای تاسی به وورته صبرکړی وای ؟ هیڅکله هم نه ! تاسی دظاهرشاه شرایط نه سول برداشت کولای کودتا موپروکړه نوستاسی دظلم اووحشت منل خودهرسالم انسان له حصلی څخه پورته خبره وه ، تاسی اوس له ځانوسره فکروکړی دپیغمبر(ص) دهغه دستورله مخی چی فرمایی [ هغه څه چی دځان لپاره خوښ نه ګڼي دبل وروړلپاره یی هم باید خوښ ونه ګڼی ] تاسی ولی دځانولپاره دغه دمطلق اربابابیت اوخدایی مقام غوښتی آیا دا ستا حق وو هغه وختونه خوتیرسول تاسی اوس خپل وجدان قاضی کړي چی آیا داستاسی حق وو چی له دغه مظلوم ملت سره مووکړل ؟

2. ستاسی دفلسفی له مخی ستاسی له ملا سید حاجی اوعاومتدینوخلګو سره دښمنی پرڅه وه داخونه سرمایه داران وه نه فیوډالان داخواکثره دغریبی طبقی خلګ وه نوتاسی خوله خپل فلسفی څخه هم نه واست خبر .

3. افغانستا خویوډیرغریب اووروسته پاته ملک وو ممکن یوڅودګوتوپه شمیردزیاتوسرمایواوځمکوخاوندان پکښی وه له هغوڅخه به موپه اول قدم کی هرڅه اخیستی وای هغوی دځانوڅخه دفاع هم نه شول کولای  نورملک خوټول غریب اوسره برابروو  ملک وکاراوآبادی ته ضرورت درلودی نه ووژولوتړلوته ، دمنځنی آسیا اسلامی هیوادوچی کله خپل معد نیات راویستل په ډیرکم وخت کی شته من شول تاسی به هغسی کارکړی وای تاسی داستالین په بریتو اوکاروکی څه خیرلیدلی وو

4. دملک علمی کدرونه چی ددی ملک دسلوکلوسرمایه وه ټوله موتاومارکړه ، په دی آخروکی چی زموږ ملک ته ډیری پیسی راغلی خوداچی موږداسی کسان په دولت کی نه درلودل چی سمی یی ولګوی هغ پیسی ټولی بی ځایه ولاړی ، زموږدملک هغه عالمان چی آمریکا اواروپا ورته ښه راغلاست ویل  دا خګ ګوند ډیردلته ووژل اونوروفراروکړ ، اوس چی سمه محکامه شروع سی آیا کمونست ګوند ددغه جواب ویلای سی ؟ هغه خولاڅه کوی خپله دکمونست ګوند اکثره خلګو وهغه لوی دښمن نړی خواره امپریالیزم ته پناه یووړه  اوس ټول ځوړ بریتونه هلته

دهغوی خیرات خوری دمسلکی کارواستعداد خودوی نه لري اصلا دوی باید وشوروی ته پناه وروړی وای ددوی مورنی وطن هم هغه وو، اوس سلیمان لایق داستعمارپر دسترخوان ناست ملامتی نه منی اولافی لاهم وهی ، ملک دی خراب کړی اوس خو راسه بیرته ملک جوړکړه

سوسیا لیزم اوعدالت اتمه برخه :
علمی اومنطقی اختلاف دانسانانو نیکړتیا وي پوره کوي ا ودملک دترقی سبب ګرځی ، په اسلامی فقه کی علمی اختلا ف رحمت ، ثروت اوضرور بلل سویدی .

1. کله چی سوسیالت ګوند په افغانستان کی کودتا وکړه هغوی نه قوم پیژندی نه دوست اوملګری ، یوازی دحزب خبره اودستوروروته ترهر څه زیات ارزښت درلود ، حتی ډیرونفروخپل وروڼه پلرونه اونږدی دوستان ووژل ، دقوم خبره ډیره بده پرلګیدل ، ددوی دوست ملګری وطنوال غم شریکه یوازی شوروی اتحاد وو هم هغه یی قبله وه چی بلکل یی دخدایی په صفت منلی وو، ددوی دیوه نفرخبره ده چی ویل یی که حزب ماته امروکړي زه خپله مورهم وروژنم ، دبل نفرپلاریی خپلودګوند ملګرو وژلی وو ده ویل ښه دی چی له دی خاین څخه یی خلاص کړلو .
لکه یومتدین شخص چی ټوله ورځ دخدای ذکرکوي دوی ټوله ورځ دشوروی ذکرکاوه چی څومره ژرکیږی هغه راسی اوددوی دقدرت میخونه په ځمکه کی ورټینګ کړي .

2. خوکله چی شوروی نظام ماتی وخوړل دوی یی تنها پرمیدان پریښودل اودوی یی ملامت وګڼل بیا نودوی وقوموته مراجعه وکړه ، په کارخوداوه چی دوی نورخپله سهوه منلی اوله قدرته څخه لاس پرسرشوی وای ، دوی دافغانستان دخرابی اوافغانانودبدبختی لپاره یوه بله شومه نقشه اوطرح جوړه کړه ، بعضی مجاهد نما قومندانان یی دقوم نامه او پیسو په واسطه جذب کړل اوورته وویی ویل موږخوستاسی عزیزان دقوم اوژبی اوسمت خلګ یوستاسی غمخوره یو راسی داپیسی واخلی ، قومی کنډکان او قومی ملیشی یی جوړی کړی . دوی په لمړی سرکی خلګ دبزګراوزمیندارہ په نامه سره وجنګول داځلی یی دقوم ژبی اوسمت په نامه سره وجنګول .

3. رښتینومجاهیدینوددوی دعوت ونه مانه ، خوهغوچی ددوی خبره یی ومنله په یوه ډیربد ائتلاف کی ورګډ سول همدغه دشورای نظاراوپرچم دګوند ائتلاف وو چی هغه دسولی پروګرامونه یی ټوله له مینځه یووړل کوم چي دملل متحد اودمجاهیدنوله لوری جوړسوی وه چی په افغانستان کی به یوملی منتخب حکومت جوړیږی ، دافغانستان په ټولو لوی ښاروکی دغه ائتلافونه جوړاوقدرتونه یی ونیول .

4. ددولت ټولی شته منی دهمدغه ائتلافیانوپه لاس کی ولویدلي اوبیا په ښاروکی جنګونه هم همدغوائتلافو په خپل مابینوکی دمادیاتوپرسرسره وکړل ، ددولت مالونه اونظامی شیان هم ټوله هدغه دائتلافونفروخرڅ کړل ، داصلی مجاهدینو په لاس خوهیڅ شی نه دی ورغلی ، اوس په ډیری بی انصافی سره همدغه دنجیب ملګری داتبلیغات کوي چی اسلحی ټوله مجاهدینوخرڅي کړي ، حال داچی داټول کارونه لکه خپل مابینی جنګونه ، دښاروخرابول اوداسلحوخرڅول داټوله دوی خپله کړیدي تراوسه خودټولوصحنواوواقعاتوعینی شاهدان موجود دي .

5. مجاهدینو دا ملک دیوه لوی ښماره له نسه راویوست ، هیڅ څوک دغه حق خبره نه کوي ، مجاهدینوټوله نړی ته دسوسیالستی ظالم نظام له استبداد څخه نجات ورکړ کوم کارچی دنړی لویو قدرتونه شوکولای.

نهمه برخه :

1. نن میډیا دخارج اوداخل څخه دباطل پرستانو په واک کی ده  هغوی غواړي دحق دین ډیوه خاموشه وساتی  اوپه دی مادی نړی کی خپل شراشرت اوفساد ته دوام ورکړي ، هغوی دحق دین په وړاندی ډیربد تبلیغات کوی ، غواړی دخپلوتبلیغاتوپه واسطه انسانان داسلام له دین څخه متنفرکړي خودحق اوباطل مبارزه یوطبیعی عمل دی چی باید هروخت موجود وي ، مسلمانان باید ودی ته متوجه واوسی داسلام په خلاف باید داسلام دمخالفانوخبری بیله پوره تحقیق څخه ونه منی ، مثلا کابل دپرچم اودهغواتلافی ملګروخراب کړی  تاوان یی پرمجاهیدینوکړی ، تاسی دکابل هره تخریب سوی ساحه وګوری چی دا دکومی  اوکومی ډلی ترمابین په جنګ کی خراب سو  بیا به تاسی ته دا معلومه سی چی کابل چا خراب کړي .

2. زیات تبلیغات وسول اوکیږی چی افغانستان مجاهدینوخراب کړي . اول به داسوال وکړومجاهدین ولی راپیدا سول علت یی څه شی وو ؟ دوم ـ که مجاهدین نه وای افغانان به دابد لپاره دسوسیالیزم په زندان کی زندانیا ن وای آیا افغان ولس همدا اوس سوسیالستی نظام غواړی که یا ؟ اوکه سوسیالیزم سم نظام وای ولی په نړی کی پخپله له مینځه ولاړ؟ همدغی کسان چی داسلام مخالفت کوي آیا دوی اوس سوسیالستی نظام وغواړي ؟ نوبیا ولی دوی په عوض ددی چی دمجاهدینواحسان ومنی مخالفت یی کوي؟ که یوه ټوپک سالاربد کارکړیدی هم علت یی دثور داومی کودتا وه ځکه هغوی شرایط ورته برابرکړه .

3. داچی اسلام دظلم ، فساد ، اسراف ، فحشا ، قومی امتیازطلبی ، بی عدالتی اوهرنوع بداخلاقیو مخالف دی دا خودټولو انسانانوپه ګټه دي ، نن بعضی کسان له اسلام څخه په دی بدووړی چی ولی اسلام دفحشا فساد په مقابل کی غوږ دریز لری ؟ دوی چی په همدغه بدوکاروعادت شویدی نوځکه له اسلام سره یی دښمنی لویدلی ده ، دوی په اسلام کی څه بد لیدلی دي ؟

4. دوی دپوهنتونواوعلمی مؤسسو ټول لوی اونخبه کدرنه اواستادان ووژل اوله ملک څخه یی وشړل چی دا دملک دسلوکلوعلمی سرمایه وه  داپه دی خاطرچی کمونستانوداګمان کاوه ددی خلګونظریی موږ نه شواړولای ، ددوی هغه څوک خوښ ووچی پرځلوروپښوروان وای خوددوی دفکرتائید یی کولای . فوج اونظام یی کامله داهل خلګ څخه تصفیه اوپرځای بی سواده اونا اهله ګوندی نفرمقررکړه اودنظام دجوړولودسلوکلوکاریی چی په علمی ډول سوی وو  په صفرکی ضرب کړ .

لسمه برخه :

علمي اومنطقی اختلاف دټولنی داصلاح اوپرختګ سبب ګرځي

1. دثورد ۷ ترکودتا وروسته متدین خلګ لکه ملا ، حاجی ، سید ، اونورداسلامی عقیدی خلګ هغه که به معلم دوکانداریا بل هرڅوک وو سخت ترفشارلاندی ونیول سول په مارشوکی به بد اورد پرویل کیدل اووخلګوته به دا فهمول کیدل چی انقلاب بی له وینوتویولواودانقلاب ضد عناصروله مینځه وړلوڅخه نه کامیابیږی ، سره له دی چی دغه پورته ډلی خلګ په ټولنه کی ډیرغریب اوله سیاست نه بلکل ناخبره آرام اوصلح خوښونکی خلګ وه اووظیفه یی صرف دنیکیودوعظ اودخیراوښیګڼي دکارو څخه بل کارنه وو خوددوی دانقلابی تیوری دغوښتنی له مخی داخلګ باید دعقیدوی تصفیی ترپرګرام لاندی وژل سوی وای لکه لینن اواستالین چی په شوروی کی همدا سی کارکړی وو .

2. ددوی مفکوره داوه چی ایدیولوژیکی ، اقتصادی اوسیاسی مبارزه باید همزما ن مخته بوتلل سی یعنی په ټولنه کی باید دټولوخلګ فکردالحاد اوماده پرستی فکروی ، داچی موږددغوپورتوخلګووعقیدوته تغییرنه شوورکولای که دوی ژوندی پاتی شی نوبیا ددی خطرسته چی دغه اسلامی عقیده دوی ونوی نسلوته انتقال کړي نوځکه باید ټولنه له داسی خلګوڅخه پا که شی ، ددوی سیا سیت داووچی خلګ باید یوازی طبیعت په خدایی ومنی دالله تعالی له وجود څخه بلکل منکرشی که نه نودیوسوسیالستی بی دینه ټولنی جوړول ممکن نه دي .

3. دوی هغه غله جنایت کاران ، قاتلان ، بدفعله اوفاسد خلګ ټوله له زندانوڅخه آزاد کړل اوهم یی دغرو هغه پخوانی فراریان وبخښل اورا وغوښتل اوټولوته یی اسلحی ورکړي ترڅوعام ولس په وټکوی په حقیقت کی دادغلوبدکارانو ټنبلواوبی سواده تش په نامه روشنفکرانو انقلاب وو، چی په ټولنه کی یی دخپل لیاقت له مخی تبارزنه شوکولای نوځکه دیوه استعماری قدرت سره دسازش په نتیجه کی یی دځانووقدرت ته درسولولاره خپله کړه .

4. په ښاروکی به دګوند خلګو دفحاشی ، بدفعلی ، شراب خوری اودښځودنڅا محفلونه جوړول اوخپل نوی ملګری به یی ورته رادعوتول ترڅودخلګوهغه سپیڅلی افغانی اخلاق خراب کړي ، چی بداخلاقه خلګ بیا خپله دین پریږدي .

5. هغوبزګروته چی یی لږلږمځکی په موقتی ډول ورکړی وي اوهغوی یی په غولولی وه ، دا بزګریی هم ومارشوته راغوښتل فکریی ورکاوه اوبالاخره یی ټوله مسلح اوسربازان یی ځینی جوړکړه . همدالاملونه وو چی دچوف خامشه مظلوم ولی متدین ولس احساسات یی راوپارول چی دشهادت مرګ ته یی دغلامی ترژوند ترجیح ورکړه په تشولاسواویا له کم زاړه بی مرمیو ټوپک سره دیوه الله پرتوکل وغروته وختل . د ۱۳۳۷ کال په منی اوژمی او ۱۳۳۸ ټوله کال هلته په غروکی محاصره پاتی سول دبازاروڅخه هرشی پربند وه حتی په دغه دوران کی یی بی مالګی ډوډی خوړل داخودمرکزی برخوخلګ وه دسرحدوخلګ بیا وایران اوپا کستان ته مهاجرشول .

6. دوی ددغوحالاتووپایلوته نه متوجه کیدل ځکه دوی په شوروی اتحاد ډاډه وه نورمحمد ترکی به لیونی لیونی ږغږیدی لکه ټوکی چی کوی اوویل به یی پا کستان زموږکورته ډبری راغورځوی یابه یی ویلی غویی مو حلال کړیدی سا یی ختلی ده صرف یوه آخرنی لغته یی پاتی

ده ودغې لغتې ته ځانونه ټينګوی اوداسې نورخبرې به يې کولې خودافکريې له ځانه سره نه
کاوه چې زما خپل ولسونه ولی راڅخه تښتی وطن پرېږدي داخوڅه دټوکو اوعادي خبري نه دي

سوسيا ليزم او عدالت يولسمه برخه :

1. دبشر هغه حقوق چې دټولې نړی له طرفه په رسميت منل سوی وه په افغانستان کی هغه کاملا وشاته وغورځول سوه ددوی فرمانونه بلکی دهرفردشخصی غوښتنې يی قانونی حيثيت درلود بی درنګه به يی عملی کولي اوپه شعاروبه يی بدرقه کولي خلګوته دافهمول کيدل چی يا به دکمونيزم چوپړکوی يا به وژل کيږی خلګ مجبوره شول چی وتيښتی ته ترجيح ورکړي .
2. دملت ، وطن ، قوم اودوستانوسره دوستی يی ټوله ګناه اوارتجاعی عمل باله ، يوازی دکمونيزم دغيرانسانی اواستبدادی نظام دراتګ لپاره هلی ځلی کيدلی هرڅيری به دلينن اواستالين دعظمت بشردوستی اوانقلابی کارناموخبری کيدلی يوازی همدا دوی دبشردتاريخ اتلان وه . حتی دوی دشوروی دحالاتوله حقيقت څخه هم سم معلومات نه درلودل اونه يی دخپلی فلسفی دتناقضاتوڅخه دفاع کولای سوه ، ددوی مشران په دی پوهيدل اوکشران يی نه پوهيدل چی مورخوددی اهليت اوحق نه لروچی دهميش لپاره ددی ملک حاکمان اوارباباب واوسو خوداچی شرايط راته برابر سويدی بايد په ټول توان سره دقدرت دلاسته راوړلو لپاره تلاښ وکړو نورارزښتونه مهم ده دي چی تړپښولاندی کيږی که څنګه ؟
3. څرنګه چی دکمونيستی مفکوری سياست داووچی دخلګوله ذهنوڅخه دخدای منلوعقيده وباسی اوخلګ ټوله بايد طبيعت په خدايی ونيسی نوځکه هرڅيری په دين اودينی شعايرو پسی ملندی وهلی ، اوکله چی به يی يوچاته سزا ورکوله نوورته ويل به يی چی ستاسی خدای دی راسی اوس دی تا له ماڅخه خلاص کړي .
4. ويل به يی همدا ماده خدای اوهرڅه دي بل خدای نسته خودومره فکريی نه شوکولای چی دغه ماده يوڅوبی روحه پيژندل سوی عناصردي داخونه دنظام دچلولوقدرت لری اونه ژوند خلق کولای سی ، ويل به يی هرکارچی کيږی طبيعت يی کوی خوپه دی نه پوهيدل چی اصلا دطبيعت معنی او ماهيت څه شی دی اوپه څه طريقه هغه دانظام چلوی اوژوند را پيدا کوی اوله مينځه يی وړی ، که به دی بحث ورسره کولای نوويل به يی داهرڅه دتصادف پربنياد کيږی داچی تصادف څخه شی په هغه کی خويی خبره هم نه شوای کولای ، دا د تصادف خبره صرف د جهانی سترحقيقت څخه دانکارپه مقابل کی يودبی منطقی دليل وو بل دليل يی درلوی نه .
5. ددوی دفلسفی ، خبرو اوکړوترمابين ډيرتناقضات موجود وه ، په افغانستان کی دسوسيالستی نظام راوستل په دغه وخت کی بلکل ددوی دفلسفی مخالف کاروو په افغانستان کی دتوليد وسايل په هغه درجه کی نه وه چی داجتماعی نظام دبدلون ضرورت راپيدا کړي ، دا دمارکسيزم دفلسفی خلاف د حفيظ الله امين خپل ابتکاروو .
6. ملا ، سيد اويومسلمان معلم يا مامورخوټوله دغريبی طبقی خلګ وه ددی خلګوحمايه بايد دوی کولای په فلسفی لحاظ خوداکسان دهغه طبقی خلګ وه چی دوی يی لپاره انقلاب کړی وو ، چی يوچا به موټردرلودی هغه به يی ځينی اخيستی که نه نووژی يی .

دولسمه برخه :

تحقیقی اوعلمی اختلاف دېولنی داصلاح اوپرمختګ سبب ګرځي .
1. کله چی شوروی ماتی وخوړه نودخلق اوپرچم ګوندونه یی په دي پوره کړل چی موږ یی وغولولو ، دروسانودماتی سره الحمدلله دسوسیالیزم استبدادی نظام په ټوله نړی کی ختم اودشوروی مظلوموخلګوله ۷۰ کلودزندان له ژوند څخه وروسته دآزادی سا واخیستله ، خوزموږدخلق اوپرچم دګوند غړی دخپل قدرت په خاطردسوسیالیزم په آرمان پاتی شول اولا تراوسه په همدغه فکردي چی موږپرحق وو افغانان اونوره ټوله نړی په ناحقه وه ، که خلق پرچم هم لکه دشوروی کمونست ګوند اونظام پرخپل تیرواشتباهاتواعتراف کړی اوله ولس څخه یی بخښنه غوښتی وای ځومره به معقول اوګټورکاروای .
2. ډاکترنجیب په ډیره چالاکی سره تبلیغات شروع کړه دورانیو اوخرابیو ټوله پړه یی دپا کستان اومجاهدینوپرغاړه وروا چول خوله ځانه سره یی دافکراوانصاف ونه کړچی : ۱ – په کوداتاګانوسم نظامونه چا خراب کړل ؟ ۲- دانقلاب دکامیابه کیدو په نامه یی ولی په ولس کی قتل عام شروع کړ؟ ۳- چا دا ولس مجبوره کړچی خپل کورونه له هرڅه سره پریږدی اووپا کستان اوایران ته فراروکړی ؟ ۴ – چا روسان راوستل ملک یی په ویران اوولس یی په قتل عام کړ؟
3. پا کستان خوموړلا په خواهم دپښتونسان پرمسئله دځان دښمن جوړکړی وو، نوولی مودومره فکرنه کاوه چی خپل خلک مو وپا کستان ته په فرارکولومجبوره کړل آیا دلویه بی عقلی نه وه ؟ دوی چی ددی طرف پښتانه دومره سخت وټکول نوآیا دهغونورو پښتنوډیرغم ورسره وو؟ صرف هدف مودشوروی داشغا ل لپاره زمینه برابرول وه . ترکودتا وروسته به مودانتخاباتو یا لویی جرګی له لاری یوملی حکومت جوړکړی وای ولی به مودومره ځانونه اوولس دربدره کولای ؟
4. شورویانواعلان وکړی چی موږ وزو ، دسوسیالستی استبدادی نظام په عموم کی سقوط وکړ ، دافغانستان دحکومت سقوط حتمی سو ، داوخت هم ډاکترنجیب پردی ولس رحم ونه کړدشورویانوپه تحریک یی بعضی قومندانان په پیسوواخیستل اودمجاهیدینوترمابین یی اختلاف راپیدا کړی ؟ په دی وخت کی دقومی ملیشواوکنډ کانودجوړولوضرورت څه وو ؟ داکاریی په دی خاطروکړچی اسلامی حکومت جوړنه شی ، جنګونه دوام پیدا کړی اومجاهیدین بدنام سي ، په اردوکی یی ټول قدرت وپرچمیانوته ورکړی ، که چیری دخلق اوپرچم دډلوترمابین دقدرت توازن موجود وای نوپرچمیانوپرخلقیانوکودتا نه شوه کولای ، قدرت به دګوند څخه وملت ته په آرامه انتقال سوی وای ، دملل متحد دپروګرام اود مجاهدین دمشرانودفیصلی مطابق به په دوي دری مرحلی کي یو انتخابی حکومت جوړسوی وای په دی حکومت کی خوبیا دخلق اوپرچم غړواوهرچا برخه اخیستلی سوه خلق اوپرچم ته خوبیله هغه عفووسول مجاهد ولس هریوه خپل دوستان خلقیان اوپرچمیان په غیږوکی ونیول .
5. دمجاهدینوپه اختلاف کی اصلا ترپاکستان دشرق اوغرب زیات لاس وو ، هغوی ویریدل که په افغانستان کی یوجهادی مستتقل حکومت جوړسی بیا به د منځینی ختیځ ټول هیوادو دآمریکا

ځخه ، اودمرکزی آسیا ملتوبه له روس اوخپلواستبدادی حکومتوځخه دآزادی غوښتلولپارجهاد شروع کړي ، تریوی اندازی په چیچینیا اوبعض ځایوکی داکاروشو ، ځکه دظلم استبداد اواستعماردختمیدویوازینی لاره جهاد دی . دلته اصلا پاکستان دخپل اختیارنه وو که نه اسلامی حکومت دپا کستان په ګټه وو چی ضیا ء الحق دهمدی لپاره قربانی شو.
6. دمجاهدینوپه اختلاف کی د آمریکا ، شوروی ، دنجیب دحکومت اوایران لاس وو ځکه په دی کی دهریوه ځانته ګټه وه ، پاکستان دآمریکا دفشارپه خاطرپه دی کارکی برخه واخیستله اواحمد شاه مسعود یی تشویق کړچی پرقدرت قبضه ولګوی آمریکا په دی پوهیدل کله چی دااقلیت پرقدرت قبضه ولګوی نوحتما داخلی جنګونه راپیدا کیږی اوآمریکا روس اونجیب وخپل هدف ته رسیږی ، دهمدی هدف لپاره نوازشریف احمدشاه مسعود دچترال له لاری په هلیکوپترکی واسلام آباد ته بوتلی ډیری اسلحی پیسی اوورسره یی دادستورورکړچی کودتا وکړي ، پا کستان دتنظیمودضعیفه کولولپاره یی په ژوره کی دقومندانانوشوری جوړه کړه ، چی جلاالدین حقانی یی ورمشراومسعود یی معاون وټاکه ، څومره چی به جهاد دکامیابی وخواته نږدی کیدی دآمریکا سفیرانوبه په پا کستان کی قومی مشران اوبعضی تنظیمونه هڅول چی په افغانستان کی داسلامی حکومت دجوړولومخه ونیسی اودظاهرشاه دراتګ په نامه به یی خلګوغولول چی هغه راولو ، با یی هم که ظاهرشاه راوستلی وای اوسم حمایت یی ځینی کړی وای ممکن ولس پرراټول سوی وای ، خو دوی شمالی ټلواله تقویه کول ددی لپاره چی حکومت استقراراواستحکام پیدا نه کړي ، رئیس جمهوربه یووو قدرت به دنورو وو ، همدا لوبه لا دوام لري

دیرلسمه برخه :

دادب په چوکاټ کی علمی اومنطقی اختلاف دنیمګړتیاوو داصلاح اودټولنی دپرمختګ سبب ګرځي ، اسلامی فقهی داسی اختلاف رحمت ، ثروت اوضرورت بللی دی .
1. دکمونیزم مسلک اوانقلابی تیوری چی هرڅه یی دولسونو دخوښی خلاف پرولسونوتحمیلول ، داداسی اعما ل نه وه چی انسان یی له انسان سره وکړي خصوصا په شلمه پیړی کی ، په ژوند کی اصل دادی چی ټول انسانان د حیثیت اوحقوقوله نظره سره برابردي په اجتماعی بدلونوکی باید دټول نظراوخوښه په نظرکی ونیول سی ، داچی یومطلق اقلیت خپله خوښه په زوردفرمانوپه واسطه په اکثریت منی داغیرمعقول غیرانسانی عمل ، ظلم اووحشت دی .
2. داچی کمونست ګوند ددغی ضد انسانی وارداتی مفکوری څخه په پټوسترګوپیروی کوله سم نظامونه یی خراب کړل زموږخارجی دښمنانوته یی دمداخلی شرایط برابرکړل ، اوس دلته مسؤلیت دهغه چا دی چی نظام یی خراب کی دداسی مثال لري لکه یوڅوک چی دخپل باغ دیوال خپله ړنګ کړي اوبیا ووایی چی ولی هرچا زموږدباغ دونوښاخونه مات اوچورکړه ، ډیرخلګ دکاراوواقعی اساسی علت له پا مه غورځوی ، اودخلګوفکریوازی دی خواته را اړوی چی ولی بعضی خلګو دباغ دونوښاخونه مات کړه اصلی عاملین دکارنه ملامتوي . دانقلاب نتیجه همیشه خرابی وي زموږملک په تدریجی ډول واصلاحاتو ، دخلګودعلمی سویی ولوړولواوتعمیری کارته ضرورت درلود ، نه انقلاب اودملک په بل مخ اړولو اودملک دعلمی شخصیتونوله مینځه وړلوته .

3. موږدمخه هم وویل که هدف دملک آبادی اود ولسونو سوکالی اونیکمرغی وایی ، ترکودتا وروسته دکمونست ګوند لپاره دومره ښه شرایط برابروه چی سم کاریی کړی وای دخپلوداخلی پوهانوخلکومشوری یی غوښتی اومنلی وای په لس یا پنځلس کلوکی به له افغانستان څخه ددوبی امارت جوړسوی وای ، ځکه داملک دآب وهوا ، زراعتی ځمکو اومعدنوله لحاظه اوهم د جغرافیایی موقعت او دتجارت په سبب دترقی لپاره ډیره مساعد وو، خوله بده مرغه دوی دملک دآبادی په عوض دبربادی لاره غوره کړه چی هم هغه ډیره بده لیننستی اواستالینستی پالیسی اوتګلاره وه ، چی ترهرڅه دمخه په یوه خدای باندی دعقیدی په ګناه خلک ووژنی اومطلقه ملحده ټولنه جوړه کړی . الله تعالی په قرآن کی په فرمایی چی : [ زما ددښمنانومکراوحیله ددین دخرابولولپاره یوڅه وي اوزما تد بیر له دوی نه زیات اثرلري ] .
4. نن روسانوپه قانونی توګه دالله د وجود ومنلوته اجازه ورکړه اودهغه د اطاعت لپاره یی وانسانانوته لاره پرانیستل ، هغه لاره چی لینن استالین مارکس بنده کړی وه ، لا هم زموږکمونست ځوانا ن دخپل فکرپه توره شپه کی پرخپل خروسواره دي نه راکښته کیږي اووایی زموږډیره مترقی اوخلقی مفکوره وه حال داچی هغه کاملا ضد خلقی اوضد انسانی مفکوره اوتګلاره وه .
5. هرچیری کمونستانودخپلومشرانوسابقه پالیسی بده وبلله ، خپله لاره یی بدله کړه له ولسوڅخه یی عفووغوښتل اوپه نستبا آرام وجدان یی دنوی ژوند لپاره کارشروع کړی، خودوی لا داوایی که مجاهدین نه وای موږبه داسی اوهغسی کړی وای . یقینا دوی به دانقلاب له کامیابی وروسته په پراخه کچه عیاشی او فحاشی شروع کړی وای ، شپه اوورځ به نشه وای اوعام ولس به یی دغلامانوپه توګه استعمالولای لکه په شوروی کي ، ملک هغه څوک آبادولای سی چی ښه علمی سویه اوتجربه اوآزادی ولری ، موږیی ګوروچی دمرکزی آسیا اسلامی هیوادونه لاتراوسه ترهغه استبداد لاندی په وروسته پاتي حالت کي ژوند کوی ، اوکه دا یوه پیړی دا ملکونه دسوسیالیزم ترتسلط اوجبرلاندی نه وای اوس به له اروپا نه مخته وای ځکه په هرلحاظ دا منطقه دکاراوترقی لپاره مساعده وه . خوزموږ لویه بد نصیبی بیا داوه چی زموږ ملک داستعماری قدرتو درقابت میدان وو . ثابت نظامونه یی پکښی وجوړولوته نه پریښودل چی ملک ته ترقی ورکړي ، اوس هم همدغه لوبه روانه ده په دوه سره حکومتوبه ملک څرنګه مخته ولاړسي . اوس هرافغان په دی پوه دی چی زموږدداخلی اختلافاتوترشا دخارجیانولاس دی ، اصلی وطن دوسته خلګوته کارپه لاس نه ورکول کیږی ، نااهله خلک دخارجیانوله خوا همایه اومطرح کیږي

څورلسمه برخه :

تحقیقی اومنطقی اختلا ف دټولنی داصلاح سبب ګرځی
1. کله چی الله تعالی روسان ناکامه کړه هغه ۷۰ کلن غروریی مات په مړو سترګوله افغانستانه ووتل ، داوخت ډاکترنجیب هم مسلمان سواوهم افغان ، دمخه تردی دروسانوداشغال په وخت کي د خاد رئیس وو اومسلمان افغانان یی ژوندی ترخاورولاندی کول ، دده تحقیق به دا وو چی مظلوم اوبی ګناه زندانیان خپله په بوکسانواولغتووژنی اوخپل زوراو قهرمانی پرزندانیانومعلومه کړي ، افسوس دهغه چا په وجدان دی چی اوس هم دی افغان بولی . کله چی الله تعالی وغواړی

حق ته بری وکړی نودکامیابی لپاره یی داسی علتونه اوآسباب را پیدا کړی چی نه دانسانانوپه فکرکی راځي اونه یی په اختیارکی وي مثلا یوعلت یی داوی چی دحق دمبارزینوپه زړونوکی قوت ، له مرګ څخه نه ویره ، اودشهادت جذبه پیدا کړی اودمقابل طرف په زړونوکی جبن اوویره واچوي .

2. ډاکټرنجیب به تردی دمخه په دین اوقرآن ملنډی وهلی ویل به یی دا خرافات دی ارتجاعی فکردی اودملت لپاره دتریاکوحیثیت لري ، خوداوخت یی بیا دقرآن آیاتونه ویل اودلیل یی په وایه اومعیاردحق یی بلل وایی : دروغجن حافظه نه لري اویا وایی : درواغجن دی دروغ وایی هوښیاردی قیاس پرکوي .

3. یوڅوتذویری اوغولونکی ویډیوګانی یی جوړي کړي ، اوپه خپل اند یی خپل اوخپل دګوند ټول جنایتونه پکښی پټ کړل ، خوله یی دمجاهدینووخواته خلاصه کړه راسی موږ.اوتاسی سره ورونه یو هیڅ نه دی پیښه سوی هسی لوبی موسره کولي ، هغه په سلهاوو زره افغانان چی مړه اووطن لوټی لوټی سو دادوی ته بی ارزښته وه ، اوس بعضی ډیرساده ګان خلګ وایی ډاکترنجیب خوډیرښه سړی وو داسی اوهغسی ښی خبری یی کولي ، ملامت خویوازی پا کستان اوآمریکاوه چي زموږپه مینځ کی یی اختلاف واچاوه ، تاسی فکروکړی پرمیډیا باندی هیڅ څوک دروسانو اوکمونستانودجنایاتویوه خبره هم نه کوي

4. ډاکترنجیب غوښتل له ډیري چالاکی څخه کاراخلي بیا یی یوه بله شیطانی دسیسه جوړول ، مجاهدینوته یی ویل راسی موږ.اوتاسی به یو ائتلافی حکومت سره جوړکړو، تا چی اتفاق اوائتلاف کولای په ۱۳۷۵ کال دترکودتا وروسته به دي کړی وای ، دی پوهیدی چی دمجاهدینو خوچرکی کوچنی ګروپونه دي په عسکری نظم نه پوهیږی په یوه قومانده کارنه شی کولای کله چی د دفوج په مابین کی راګیرسي ټوله به یوځایی له مینځه یوسو لکه کوم کارچی جنرال مالک له طالبانوسره وکړ. تاسي فکروکړي چی په داسی ستردښمن سمدستی دومره زیات باورکول حماقت نه دی ؟

5. دافغانستان ولس دخپل وطن دآزادی لپار بی حسابه قربانی ورکړي وي دا مشکل په ائتلافی حکومت نه بلکی په انتخابی حکومت حل کیدی ، اوداثابته هم شول چی پرچمیانواودشورای نظارډلی ائتلاف سره جوړ اوکابل یی اشغال کړ مشکل حل نه سو اولاتراوسه نه دی حل سوی ، اوترڅوچی یوریښتینی انتخابی حکومت جوړسوی نه وي دابدبختی به دوام لري